# پاکستان ته د ملي پخلاینې شورا مشر سفر او پر سوله یې اغېز

## د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز - کابل

**تحلیل** CSRS | **شماره:** ۳۵۶

13 میزان ۱۳۹۹ هـ ش / 2020 Oct 04

**ویبسایت:** www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید:

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

---

لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# پاکستان ته د ملي پخلاينې شورا مشر سفر او پر سوله يې اغېز



د روان کال سپټمبر مياشتې په 28 نېټه د ملي پخلاينې شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله د پاکستان لومړي وزير عمران خان په رسمي بلنه ياد هېواد ته درې ورځنی سفر ترسره کړ. د ښاغلي عبدالله د سفر درې ورځې وړاندې لومړي وزير عمران خان او ولسمشر محمد اشرف غني په افغان سوله د تلفون له لارې خبرې وکړې. پاکستان ته د ښاغلي عبدالله سفر به پر سولې څه اغېز ولري، بل دا چې پاکستان تر اوسه په افغان سوله کې څه ډول رول لرلی او په راتلونکې کې د ياد هېواد رول به په افغان سولې څه اغېز ولري، د CSRS دا تحليل مو همدې موضوع ته ځانګړی کړی دی.

## پاکستان ته د ډاکتر عبدالله عبدالله د سفر موخه

د ملي پخلاينې شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله د تېرې مياشتې په 28 نېټه د لومړي وزير عمران خان په رسمي بلنه پاکستان ته سفر ترسره کړ. په ياد سفر کې ښاغلي عبدالله د پاکستان بهرنيو چارو وزير ترڅنګ، د سنا او ولسي جرګې مشرانو، لومړي وزير عمران خان، ولسمشر عارف علوي او يو شمېر ديني علماوو سره ليده کاته ترسره کړه، او د اسلام آباد د ستراتېژيکو څېړنو انسټيټيوټ[1] کې يې د دواړو هېوادونو پر اړيکو او افغان سولې خبرې وکړې .

ډاکتر عبدالله عبدالله چې د تېر ملي يووالي حکومت پر وخت کې اجرائيه رئيس او اوسني حکومت کې د ملي پخلاينې شورا مشر او د ځانګړې واک څښتن دی پاکستان ته وروسته له څه باندې 12 کلونو

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

[1] -Institute of Strategic Studies Islamabad (ISSI)

لومړنی سفر ترسره کوي. ښايي همدا لامل وي چې پاکستاني لوري د ښاغلي عبدالله د ورتګ څخه تود هرکلی کړی وي. بل دا چې پاکستان غواړي د ډاکتر عبدالله عبدالله او ولسمشر محمد اشرف غني خپل منځي اختلافاتو ته په کتو دا په ډاګه کړي چې پاکستان په سخت وخت کې د هغوی ملاتړی ثابتېدلی شي، او له دې کار ښايي د پاکستان اصلي موخه دا هم وي چې په دې توګه د هند لاس په افغانستان کې لنډ کړي ترڅو هند د افغان خاورې نه په ګټې اخیستنې سره د پاکستان پر خلاف ګامونه پورته نه کړي. دا ځکه چې د عبدالله عبدالله د سفر پر مهال د پاکستان بهرنيو چارو وزير د افغان سولې بريا په برخه کې خوشبيني ښودله خو په ورته وخت کې د سولې سبوتاژ کوونکو په اړه هم څرګندونې ترسره کړې چې بايد د ټولو پاملرنه د هغوی په لوري واوسي.

پاکستاني چارواکو ډاکتر عبدالله عبدالله د سولې په برخه کې مهم شخص وباله، او په افغان سوله کې يې د هر ډول ملاتړ ډاډ څرګند کړ. لومړي وزير ښاغلي عمران خان له ډاکتر عبدالله سره په ځانګړې ليدنه کې څرګنده کړه چې د افغانانو ترمنځ خپلمنځي خبرو اترو هر ډول پرېکړه به يې د هېواد له خوا منل کېږي، او د اسلام آباد ستراتېژيکو څېړنو مرکز کې د پاکستان بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي بيا ځلې څرګنده کړه چې هېواد يې په افغانستان کې د تل پاتې سولې لپاره هڅې کړې دي او په راتلونکې کې هم د افغان سولې په برخه کې هر ډول مرستې ته چمتو دي، که څه هم پاکستان له دې وړاندې هم په افغان سوله کې د مرستې ژمنې کړې وې خو دا به راتلونکی معلوموي چې ياد هېواد په افغان سوله کې کوم ډول رول لوبوي. په ټوله کې پاکستان ته د ښاغلي عبدالله د دې سفر وکولی شول ترڅو هغه لوري ژوري چې د دواړو هېوادونو اړيکو خرابولو کې يې مرسته کړې وه تر يو بريده له منځه يوسي. پاکستاني علماوو له ښاغلي عبدالله سره په ځانګړې ناسته کې د بين الافغاني خبرو اترو په دوران کې د هر ډول مرستې ژمنې وکړې، او ويل کېږي چې د افغان سولې په برخه کې به پاکستاني علماء کابل ته هم سفر ترسره کوي. که افغان حکومت د پاکستاني علماوو ملاتړ خپل کړي هغوی په ډېره آسانه توګه کولی شي له طالبانو سره د خبرو اترو په دوران کې پېچلې مسئلې په کم وخت کې حل کړي، دا ځکه چې طالبان پاکستاني علماوو ته په ځانګړي احترام قايل دي، او دا کار کولی شي د افغانانو وينې تويدو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو ښه کېدو سره هم مرسته وکوي. پاکستان د حسن نيت او ښه ګاونډيتوب په پار افغانستان سره د سوداګرۍ په برخه کې د آسانتياوو رامنځ ته کولو ترڅنګ، افغان وګړو ته د ويزو ورکړې په برخه کې د بې ساريو آسانتياوو رامنځ ته کېدو خبر هم ورکړ .

## په افغان سوله کې د پاکستان ونډه

له 2001 کال راهیسې چې امریکا پر افغانستان تېری کړی، پخواني ولسمشر حامد کرزي د شلو ځلونو زیات پاکستان ته سفرونه ترسره کړل ترڅو په افغان سوله کې د یاد هېواد ملاتړ ترلاسه کړي، مګر د نوموړي ټول سفرونه د افغان سولې په برخه کې د ناکامۍ سره مخ شول. تر دې چې پخواني ولسمشر هڅه وکړه ترڅو د طالبانو تحریک معاون ملا عبدالغني بردار سره په افغان سولې خبرې وکړي، هغه کار چې ښاغلی برادر ورته هم ډېر لیواله وو. مګر پاکستان ملا عبدالغني بردار په 2010 کال کې په کراچۍ ښار کې ونیو او دې کار وکولی شول چې د افغان سولې پړاو له ستر خنډ سره مخ کړي تر دې چې په 2018 کال کې نوموړی له بند څخه آزاد کړای شو. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د USIP سره په خبرو کې څرګنده کړه چې ملا عبدالغني برادر د نوموړي په غوښتنه پاکستان له بند څخه آزاد کړی وو. له دې پرته یو شمېر نور طالبان چې د سولې په برخه کې به یې لیوالتیا لرله پاکستان کې یا ترور شوي او یا نیول شوي وو. تر دې چې طالبانو په قطر هېواد کې خپل سیاسي دفتر پرانیست چې په لومړیو کې د افغان حکومت له نیوکو سره هم مخ شو مګر یاد دفتر له یوې خوا تر یوې کچې وکولی شول ترڅو د طالبانو تحریک په مشرانو د پاکستان اغېز او فشار تر یو بریده راکم کړي، او بلخوا د سولې بهیر پیل کېدو سره مرسته وکوي.

طالبانو د یاد سیاسي دفتر له لارې د امریکا سره د افغان سولې په اړه شاوخوا 18 میاشتې خورا پېچلې خبرې اترې وکړې تر دې چې د دواړو لوړو لخوا یادې خبرې اترې یوې نسبي بریا ته ورسېدې او د روان کال فرورۍ میاشتې په 29 نېټه دواړو لورو ترمنځ د افغان سولې په اړه یوه نسبي هوکړه هم لاسلیک شوه. د طالبانو او امریکا ترمنځ د 18 میاشتنیو خبرو اترو په لړ کې امریکایي چارواکو ترڅنګ طالبانو هم پاکستان ته وخت پر وخت سفرونه ترسره کړل. خو په پاکستان کې د 2018 جولای میاشتې ټاکنو وروسته چې عمران خان یکې د لومړي وزیر څوکۍ ته ورسېد په هغه وخت کې ولسمشر ټرمپ په پاکستان له دې امله سختې نیوکې وکړې چې ګواکې په افغان سوله کې د امریکا د خوښې رول نه اداء کوي. د 2018 کال سپتمبر میاشت کې چې زلمی خلیلزاد د افغان سولې په برخه کې د امریکا ځانګړی استازی وټاکل شو داسې انګېرل کېده چې ښایي زلمی خلیلزاد به د پاکستان پر خلاف ګامونه پورته کړي، خو د 2018 کال جنورۍ میاشت کې سناتور لینډسې ګراهم (Lindsay Graham) پاکستان ته د خپل سفر په لړ کې د لومړي وزیر عمران خان او ولسمشر ټرمپ مخامخ لیدو ته زمینه برابره کړه، او دې سفر یو ځل بیا پاکستان ته دا فرصت په لاس کې ورکړ ترڅو په افغان سوله کې خپله ونډه وښیي. 2018 ډسمبر کې سیمې ته د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي په توګه زلمي خلیلزاد د خپل لومړني سفر په ترڅ کې په لیکنې بڼه په افغان سوله کې له عمران خان څخه د مرستې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

جدي غوښتنه وکړه. تردې چې د لومړي وزیر عمران او ټرمپ ترمنځ 2019 جولای کې لومړنۍ لیدنه ترسره شوه او په افغان سوله یې هم خبرې وکړې.

د امریکایي چارواکو پرته پخواني او اوسني افغان حکومت لوړپوړو چارواکو په پاکستان له دې امله سختې نیوکې کولې چې ګواکې طالبان او هغه نورې اورپکې ډلې چې په افغانستان کې جګړې ترسره کوي د یاد هېواد ملاتړ له ځان سره لري. خو پاکستانیو چارواکو وار په وار د افغان حکومت او امریکا ټولې نیوکې رد کړي او په افغانستان کې سوله یې د پاکستان لپاره هم ګټوره بللې ده، د پاکستانیو چارواکو پر وینا د افغان جګړې څخه پاکستان هم تر ډېره زیانمن شوی دی.

## پاکستان له چا سره دی؟

افغان طالبانو د امریکا او متحدینو پر خلاف یې د روان کال فرورۍ میاشتې 29 نېټې پورې جګړه ترسره کوله. خو د فرورۍ پر 29 نېټه کله چې د افغان سولې په اړه امریکا او طالبان یوې نسبي هوکړې ته ورسېدل، دواړه لورې د شوې هوکړې پر بنسټ پر یو بل حملې نه ترسره کوي. د دوحې هوکړې له مخې افغان حکومت د طالبانو 5000 زره تنه او طالبانو بیا د افغان حکومت 1000 تنه بندیان خوشې کړل، که څه هم د بندیانو خوشې کېدو لړۍ چې ټاکل شوې وه د دوحې تړون څخه لس ورځې وروسته پای ته ورسیږي مګر شاوخوا 6 میاشتې وخت یې ونیو. په یاده موده کې پاکستان له دواړو خواوو څخه غوښتنه کوله چې بندیان خوشې کړي ترڅو بین الافغاني خبرو اترو ته ورسیږي .

د افغان حکومت لخوا د طالب بندیانو د نه خوشې کېدو پر وخت طالبانو پاکستان ته سفر ترسره کړ، خو کله چې افغان حکومت د پاتې 400 طالب بندیانو خوشې کېدو په اړه مشورتي جرګه را وغوښته د جرګې د هغې پرېکړې له مخې چې پاتې طالب بندیان دې خوشې کړای شي، پاکستان ورځنې تود هرکلی وکړ، او د بین الافغاني خبرو اترو په پرانیست غونډه کې پاکستاني لوري بیا ځلې څرګنده کړه چې افغان جګړه چې پاکستان پکې له امریکا او طالبانو سره وخت ته په کتو دوستانه اړیکې لرلې یوازې د خبرو اترو له لارې پای ته رسېدلی شي او هیڅ ډول نظامي حل نه لري.

## پاکستان په افغانستان کې څرنګه سوله غواړي؟

په سیمه کې پاکستان هغه هېواد دی چې په افغان سوله کې مهم رول لري. ولې له یوې خوا په افغانستان کې د هند رول چې په افغانستان کې یې شاوخوا 4.2 بیلیون پانګونه کړې، د بېلګې په توګه د سلما بند، چابهار بندر، پارلمان ودانۍ جوړولو ترڅنګ یو شمېر نورې غټې او وړې پرمختیایي پروژې یې په لاره اچولې، او بلخوا له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو پاکستان دې ته اړ کړی ترڅو نه یوازې د طالبانو بلکې د افغان حکومت او په ځانګړې توګه هغو افغان چارواکو سره چې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

هند ورسره نږدې اړیکې لري، د افغان سولې په برخه کې مرسته پراخه کړي او په دې توګه هغه وېره چې هند به د افغان خاورې نه د یاد هېواد پر ضد ګټه پورته کړي تریو برېده راکمه کړي.

پاکستان چې وړاندې به یې د افغان حکومت او امریکا څخه د امتیاز اخیستو لپاره پر طالبانو فشار راوړ، مګر دا چې اوس طالبان د پخوا په نسبت د نړۍ په سطحه پراخه ملاتړ او ځانګړې پېژندګلوي لري، او پاکستان پر هغوی د فشار واردولو څخه یو څه لرې شوی دی، تر دې چې پاکستان د بین الافغاني خبرو اترو کوربه توب څخه هم لرې شو، یاد هېواد غواړي افغان حکومت او امریکا ته وښیي چې د سولې په برخه کې مرسته کولای شي او په دې توګه ځان په افغان سوله کې په یو ډول دخیل وګڼي. بلخوا پاکستان اړ ده ترڅو د CPEC یا (د چین – پاکستان لویې اقتصادي لار) کامیابېدو لپاره په افغان سوله کې مرسته وکوي ځکه د یادې پروژې لومړني پرمختیایي کارونه په پاکستان کې ترسره کېږي او په افغانستان کې د نا امنۍ په صورت کې یاده پروژه له خنډ سره مخ کېدلی شي، چې د پاکستان اوسنی کمزوری اقتصادي وضعیت لاپسې کمزوری کولی شي.

د سویلي آسیا په اړه امریکا په خپله پالیسۍ کې هند ته ډېر ارزښت ورکړی، پاکستان اړ دی ترڅو داسې ګامونه پورته کړي چې په افغانستان کې د سولې راتګ سره د راتلونکې حکومت ملاتړ له ځان سره ولري.

له شکه پرته په افغانستان کې تلپاتې سوله د سیمې هېوادونو له ملاتړ پرته ناممکنه ده، ځکه په سیمه کې د لویو قدرتونو چین او امریکا ګټو افغان سولې مسئله لاپسې پیچلې کړې ده.

په افغانستان کې تلپاتې سوله د سیمې هېوادونو او په ځانګړې توګه د پاکستان په ګټه ده. که څه هم پاکستاني چارواکي وخت پر وخت پر دې خبرې ټینګار کوي چې ګواکې هند افغان خاوره د پاکستان پر خلاف کاروي، که چېرته پاکستان غواړي دا ډول اندېښنې یې راکمې شي نو حتمي ده چې د افغان سولې په برخه کې خپل کلیدي رول ولوبوي، او که چېرته په افغانستان کې نا امني وي، نو د پاکستان دا ډول اندېښنې به لاپسې زیاتې شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

# به مناسبت روز جهانی معلم

## کشور های پیش رفته چه گونه سطح زندگی معلمین شان را بالا بردند؟



بیست و پنج سال پیش در سطح بین المللی روز (۵ اکتوبر) به نام روز جهانی معلم نام گذاری شد، که در افغانستان به تاریخ (13 میزان) تجلیل می گردد.

در سال ۱۹۹۴ میلادی سازمان آموزشی، علمی و فرهنگی ملل متحد (یونسکو) در چهل چهارمین اجلاس وزرای آموزش و پرورش با ۱۳۵ کشور عضو که از ۳ تا ۸ اکتوبر در شهر ژنو برگزار شد، توسط مدیر عمومی آن وقت سازمان یونسکو (فدریکو مایو) پیشنهاد شد که یک روز به نام معلم اعلام شود. هدف این نام گذاری توجه به اهمیت تدریس و بهبود سطح زندگی معلمین می باشد، تا از این طریق معضلات حل شده و به نظریات آن ها گوش داده شود[۲]. امروز وضعیت سطح زندگی، حقوق و مزایا و معیشت معلمین، نه فقط در کشور ما بلکه در بسیاری کشورهای دنیا یکی از مسائل مورد مناقشه به حساب می آید. تمام کشور های جهان نظر به وضعیت خود شان، به این موضوع توجه نشان می دهند.

[2] https://csrskabul.com/?p=5683

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

اما در کشورهای توسعه یافته چگونه به این مسئله نگاه می شود؟ دغدغه اصلی این کشورها تأمین نیروی کار شایسته است تا نیاز آموزش به مکتب را بر طرف کند. از نظر تمام  این کشورها باید وضعیت معیشتی و سطح زندگی به نحوی باشد که بتواند مشکلات معلمین را رفع نموده و او را از لحاظ ذهنی به آرامش برساند تا وی بتواند با آرامش خاطر به آموزش بپردازد و علمیت خود  را در خدمت دانش آموزان قرار دهد.

با این وجود وضعیت معلمین در میان تمام کشور ها یکدست نبوده و با تفاوت های چشمگیری مواجه است. در میان کشور ها بطور مثال ایالات متحده امریکا در ایالت های مختلف آن برای معلمین مزایایی و حقوق متفاوت در نظر گرفته شده است، حقوق معلمین از طریق اتحادیه ها با دولت شریک می شود. در میان کشورهای جهان، آلمان، جاپان، کانادا، مالیزیا و کوریای جنوبی بیشترین حقوق را برای معلمین شان در نظر گرفته‌اند، البته شرایط کار برای آموزگاران در کشور های گوناگون  مختلف بوده نظر به آن تعین می گردد. تحلیل حاضر را به همین موضوع اختصاص داده ایم تا ببینم که تفاوت میان سطح زندگی معلمین افغان در مقایسه با کشور های دیگر؛ چی گونه است؟ و چه طور می توانیم از تجربه سائر کشور ها درین عرصه استفاده نماییم؟

## تجربۀ جاپان

جاپان در سال ۱۸۶۸ میلادی زمانی که در مقابل حکومت خود قیام کردند، دولت جدید پس از آن هیئت های را به چند کشور از جمله آلمان، فرانسه و امریکا اعزام نمودند به اساس آن توانسته اند ایده جدید به نظام تعلیمی خود ایجاد نمایند. جاپان در نظام تعلیمی و آموزش خود رتبه دوم را در جهان دارا می باشد، جاپان کشوری است که با مصارف کم در پی تلاش بالابردن سطح آگاهی دانش آموزان خود می باشد،  و این کار را می خواهد با بدست آوردن رضایت معلمین خود حاصل نماید، چون تا زمانی که رضایت معلمین موجود نباشد ممکن نیست به کیفیت برتر دست یابند. حقوق یک معلم در جاپان معادل ۷۵۰۰ دالر در ماه می باشد، معلمین قبل از این که به این شغل آغاز به کار نمایند حس وظیفه شناسی، داشتن علاقه به شاگردان در وجود شان نهادینه می گردد، با احترام که به آنها صورت می گیرد آنها را وادار به صداقت شغلی شان می نمایند. مردم جاپان در برنامه های عمومی عرفی را ایجاد نموده اند که کرسی خود را به هیچ کس جز معلم رها نمی نمایند، زمانی که می خواهند یکی از وسایل و

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

یا محل سکونت معلمین  را تفتیش نمایند،  پولیس باید از طرف دولت اجازه نامه رسمی داشته باشد. همچنان، معلمین می توانند با کارت های شغلی خود در مواردی از سهولت های وزراء و نمایندگان دولتی نیز برخوردار شوند. طبیعیست با تمام این قدر و ارزش که از جانب دولت و مردم برایشان صورت می گیرد، معلمین با علاقه و پایبندی به ادای مسئولیت خود اقدام می نمایند.[۳]

## تجربۀ مالیزیا

مالیزیا روند توسعه خود را دیرتر از برخی کشور های شرق آسیا (چاپان، کوریای جنوبی، تایوان، سنگاپور) آغاز کرد، اما به سرعت در مسیر رشد و توسعه قرار گرفت. دلایل اصلی این موفقیت در مواردی همچون اصلاح ساختار مدیریت سیاسی، اقتصادی، تعلیمی، خصوصی سازی، توسعه صادرات و الگو گیری از کشور های موفق و تعامل فعال با قدرت های برتر می باشد.

دوره بنیادین تحول توسعه ای مالیزیا در سال های (۲۰۰۳ – ۱۹۸۱) میلادی دوره زمام داری دکتور مهاتیر محمد بوده است، عمده ترین سیاست های مهاتیر گسترش آموزش همگانی، توسعه تحقیقات علمی و توجه به آموزش و آموزگار می باشد. در زمان حکومت وی معلمین توانسته اند دوره های کسب مهارت آموزگاری را به صورت رایگان حاصل نمایند و با موفقیت از یک درجه تحصیلی به درجه تحصیلی دیگر ارتقاء یابند[۴].

در مالیزیا ادارهء مهمی به اسم تعاون و رفاه معلمین وجود دارد، که وظیفه آن  تامین رفاه معلمین در سراسر آن کشور است؛ معلمین با در جریان گذاشتن دغدغه ها و مشکلات شان با این اداره، می توانند در پیشنهاد برای حل نیز همکاری نمایند. ارایه خدمات رفاهی از قبیل بیمه، قرضه ها، تسهیلات بانکی، تامین مراکز رهایشی، خدماتی بهداشتی و درمانی وغیره وظیفه این بخش است[۵].

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[3] https://www.bayancenter.org/fa/2017/12/95/

[4] شیر زاد رضا، استاد: علوم سیاسی در دانشگاه آزاد کرج، کتاب: اندیشه های ماهاتیر محمد، سال: ۱۳۹۶

[5] http://oerp.ir/international/4401/%D8%A2%D9%85%D9%88%D8

## وضعیت ناگوار معلمین در افغانستان

در حالی که که معلمی یک شغل پر مسئولیت در اکثریت جهان به شمار می رود، اما  در افغانستان به این شکل نمی باشد. شغل معلمی در کشور به یک شغل آنچنان قابل توجه دیده نمی شود، دولت برای معلمین با مهارت و با استعداد هیچ تفاوت از معلمین که استعداد و روش تدریس را بلد نیستند؛ قایل نمی باشد که طبعاً سبب روحیه کشی و منع ابتکارات می گردد. معلمین در افغانستان حقوق ماهانه بین ۶ الی ۱۴ هزار افغانی معادل به ۷۰ الی ۱۶۰ دالر دریافت می کنند. در حالی که در ایران این رقم از ۳۰۰ تا ۶۰۰ دالر، در امارت ۲۵۰۰ دالر، کوریای جنوبی برای معلمین تازه کار ۲۳۰۰ دالر و بعد از ۱۰ سال ۳۵۰۰ دالر، می باشد[6].

معلمین افغانستان در مکاتب دولتی گاهی صنف های ۵۰ الی ۶۰ نفری را نیز مدیریت می نمایند، این موضوع بالای آنها فشار جسمی و روانی زیادی را می آورد. معلمین در افغانستان از آرامش ذهنی برخوردار نمی باشند تعداد زیادی از آنها در خانه های کرایی زندگی دارند، از مشکلات اقتصادی، امنیتی و حتی خانواده گی رنج می برند. نبود امکانات، معاش کم، موقعیت و ارزش اجتماعی نا مناسب، موجودیت فساد اداری در استخدام معلمین... باعث گردیده است؛ که کیفیت تدریس آنها را کاهش دهد، و دیگران که دانش آموخته اند و متخصص می باشند مسئولیت معلمی را نپذیرند.

آموزش و پرورش ستون اصلی یک کشور را تشکیل می دهد، و آنانی که این ستون را محکم می نمایند باید برای آنها توجه صورت گیرد، امسال همانند سال های گذشته از روز معلم در حالی تجلیل می شود که حکومت افغانستان توجهی به وضعیت زندگی معلمین ندارد، وعده های بجا ناشده، سال های قبل نیز، دیوار بلندی از بی اعتمادی میان حکومت و معلمین را بوجود آورده است. معلمی که این چنین تحت فشار های گوناگون قرار داشته باشد، چگونه می تواند یک صنف ۴۵ تا ۵۵ نفری که با استعداد های متفاوت می باشند مدیریت درست نماید.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

6 http://atlasprwess.af/%D8%AD%D9%82%D9%88%D9%82-%D9%D8%D9%84%D9%85-%

## چه باید کرد؟

بخاطر بهبود وضعیت زندگی معلمین افغانستان اقدامات زیر را بنیادی می دانیم:

1. قیام صلح و پایان دادن به جنگ، زیرا تا وقتی که جنگ و بی امنیتی دوام داشته باشد؛ هیچ بخشی از اجتماع نمی تواند رشد و تکامل درست نماید. بخش اعظم بودجه، به خصوص کمک های بیرونی در جنگ به مصرف می رسد و چیزی برای زمینه های انکشافی باقی نمی ماند. حکومت های بعد از جنگ باید بهبود وضع معیشتی معلمین بخاطر انکشاف معارف کشور را در اولویت های کاری خویش قرار دهند.
2. بعد از پایان اثرات ناگوار کرونا بر اقتصاد کشور؛ در معاش معلمین کشور باید از 10 تا 30 فیصد ازدیاد به عمل آید؛ این ازدیاد می تواند پاسخگوی برخی از مشکلات اقتصادی آموزگاران محترم ما گردد که در مکاتب دولتی مصروف خدمت می باشند.
3. اسناد زمین هایی که قبلاً به معلمین محترم در ولایات مختلف کشور داده شده، نهایی گردیده، مشکلات آن رفع گردد. همچنان به معلمینی که تا حال از این امتیاز برخوردار نگردیده اند؛ به حسب قرعه و نوبت، طی سال های آینده زمین توضیع گردد.
4. بانک های کشور؛ به خصوص بانک اسلامی افغانستان باید قرضه های با شرائط سهل را جهت اعمار سرپناه در خدمت آموزگاران کشور قرار دهند تا به کمک این قرضه ها بتوانند صاحب خانه و سرپناه گردیده حد اقل از فشار کرایهء خانه بیرون شوند.
5. با استفاده از تجربهء کشور مالیزیا؛ ادارهء قوی و مستقلی بخاطر رفاه و حمایت از حقوق معلمین باید ایجاد گردد تا به شکل دوامدار و در سطح کشور بخاطر بهبود سطح زندگی معلمین کشور کار وتلاش نماید. چنین یک اداره ای می تواند با جذب کمک های بیرونی، دروازه های همکاری بروی استادان به شمول همکاری با منسوبین مصیبت زده و بی بضاعت معارف کشور، باز نماید.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده چې د نويو څېړنو او پاليسيو تر مينځ داسې ارتباط قايم شي چې په پايله کې د هېواد په کچه تولې پاليسۍ په مطالعې ولاړو اکاډيميکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)